د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیکه خپرونه

### لومړی پړاو - پنځه دیرشمه ګڼه

١۴۴٧-١١-٠٦



- د افغانستان لپاره د ترکیې سفیر سره د عامې روغتیا وزیر لیدنه!
- د روغتیانړیوال سازمان مشر سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- د حاجیانو درملنې په موخه 42 قلمه اړین درمل د حج او اوقافو وزارت ته سپارل!
- د روغتیایي خدمتونو پراختیا په موخه AIL مؤسسې سره د یو تړون لاسلیک!
- پکتیکا ولایت کې د خوارځواکی درملنې د یو مرکز جوړېدل!

د ویاند، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

## د عامي روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رياست له لوري د تورخم فرضي کربښې او اسلام قلعه بندر روغتيايي کارکوونکو ته کابل کې د ساري ناروغيو د څارنې، مخنيوي او کنټرول په برخو کې د کارکوونکو د مسلکي وړتياوو او د ظرفيت لوړولو په موخه درې ورځنۍ روزنيز ټرېننګ ترسره شو



د عامي روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئيس، ډاکټر عنايت‌الله عنايت د ساري ناروغيو د خپرېدو د مخنيوي په برخه کې د ورودي نقطو د کارکوونکو پر مهم رول ټينګار وکړ او د سرويلانس سيستم لوړول يې حياتي وباله.

په دغه روزنيز پروګرام کې تشخيص، راپور ورکول، د خطر ارزونه او وقايوي تدابير له عملي تمرينونو سره يوځای وړاندې او له ګډونوالو وغوښتل شول، چې د ټرېننګ په ترځ کې زده کړې موضوعات په خپل کاري چاپېريال کې په اغېزمن ډول پلي کړي.

---

## بیست نو قلم ادویه به ریاست صحت عامهٔ ننگرهار تسلیم داده شد



این ادویه از سوی اداره بین‌المللی یونیسف برای ربع دوم سال میلادی جاری، به‌منظور ارایه خدمات صحی در شفاخانه تخصصی حوزه‌ای ننگرهار و شفاخانه‌های ولسوالی‌ها، به مسوولان ریاست صحت عامه ننگرهار سپرده شد.


از میان این ادویه، 15 قلم برای شفاخانه حوزه‌ای و 14 قلم برای شفاخانه‌های ولسوالی‌ها اختصاص داده شده است که در زمان معین به تمام مراکز ارسال خواهد شد.

---

## More than 11 Tons of Expired and Substandard Food Items and Medicines Destroyed in Kunar Province

These items, which had been collected from various areas by inspection and monitoring officials of the Provincial Public Health Directorate, were destroyed in the presence of relevant authorities.



## د افغانستان ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د پکتیا ولایت ځمکنيو ولسوالۍ له قومي مخورو سره لیدنه وکړه



په دې لیدنه کې د یادې ولسوالۍ د روغتیايي خدماتو پر وضعیت، د موجوده روغتون د خدماتو لوړولو، د امبولانس خدماتو د زیاتوالي، روغتیايي مرکزونو ته د درملو د رسولو او د طبي تجهیزاتو د برابرولو په اړه بحث او خبرې تر سره شوې.

قومي مخورو د خپلې ولسوالۍ جغرافیوي شرایطو او د روغتیايي خدماتو محدود لاسرسي ته په اشارې سره د خدماتو پراختیا اړینه وبلله او د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ څخه یې وغوښتل، چې په یاده ولسوالۍ کې روغتیايي خدمات لا زیات او پیاوړي شي.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د قومي مخورو غوښتنې او وړاندیزونه واورېدل او د اړوندو څانګو مسؤلینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې، څو د دغه ولسوالۍ د روغتیايي ستونزو حل ته جدي پاملرنه وشي.

ښاغلي وزیر ټینګار وکړ، د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي، چې په هره ولسوالۍ کې د ولسوالۍ د کچې عمومي روغتونونه جوړ کړي، شته روغتیايي خدمات پراخ او د هېواد ټولو وګړو ته د معیاري روغتیايي خدماتو د لاسرسي زمینه برابره کړي، چې په دې برخه کې عملي اقدامات او هڅې دوام لري.

## وزارت صحت عامه به‌منظور تقویت و گسترش خدمات صحی برای باشنده‌گان ولایت کندز، با مؤسسه MAGNA قراردادی را به ارزش (5٬446٬646) پنج میلیون و چهارصد و چهل‌وشش هزار و ششصد و چهل‌وشش دالر امریکایی امضا کرد




این قرارداد با هدف ارتقاء کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی و کاهش مشکلات صحی مردم به مدد یک سال به امضا رسیده است که با تطبیق آن، تمام باشنده‌گان ولایت کندز از خدمات صحی اساسی مستفید شده و برای (1٬757) تن نیز در بخش صحت زمینه کار فراهم خواهد شد.

از سوی هم، نماینده‌گان مؤسسه MAGNA نیز اطمینان داده‌اند که این پروژه را در مدت یک سال مطابق با تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و به تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد.

## Training Workshop Held for 107 Surveyors and Team Leaders of Pharmacy Re-Registration Project from 17 Provinces



The training, held in the auditorium of the Food and Drug Authority, was officially opened with remarks by the Director General of Pharmaceutical and Health Products Regulation, Dr. Naeemullah Ayoubi, welcomed participants, highlighted the project's importance for improving nationwide pharmaceutical regulation, and emphasized honest and responsible performance of duties.

Additionally, during the training, experts introduced the pharmacy survey and re-registration project along with its technical system, enabling participants to implement the process effectively and accurately.

Notably, with the implementation of this project, all pharmacies across the country will be surveyed and licensed pharmacies will be re-registered electronically.



## د عامې روغتیا وزارت له لوري په افغانستان کې د ټولیزو روغتیایي خدمتونو د بیاکتنې درې ورځنۍ ورکشاپ پیل شو

یاد ورکشاپ د روغتونونو په کچه د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو بهیر بیاکتنې، د ثالثي خدمتونو د وړاندې کېدو څرنګوالي ارزونې، د ثالثي روغتیایي خدمتونو لپاره د اړتیا وړ طبي او غیر طبي تجهیزاتو او مسلکي کارکونکو د لست ترتیبولو په موخه ترسره شو.

په دې ورکشاپ کې چې د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسۍ او معالجوي طب لویو ریاستونو او مرکزي روغتونونو مسؤلینو ګډون درلود، پر یادو موضوعاتو هر اړخیز بحث او خبرې ترسره شوې؛ څو شته ستونزې حل، روغتیایي خدمتونه پراخ او کیفیت یې لوړ شي.




## یک برنامه آموزشی 12 روزه"In-Service" برای 15 تن از واکسیناتوران مراکز صحی ولایت نورستان آغاز شد

این برنامه از سوی مسوولان ریاست صحت‌عامه این ولایت افتتاح شد و آنان در جریان آن، اهمیت واکسین را در جلوگیری از امراض ساری و ایجاد یک جامعه سالم برجسته ساخته و .از اشتراک‌کننده‌گان خواستند تا از این فرصت آموزشی استفادهٔ اعظمی نمایند

همچنان در جریان این برنامه، مفاهیم اساسی معافیت، انواع واکسین، جدول زمانی تطبیق واکسین، مدیریت زنجیره سرد (Cold Chain) ، تطبیق واکسین، مدیریت وقایع AEFI ثبت و راپوردهی و موضوعات مرتبط به آگاهی‌دهی عامه به‌گونه عملی آموزش داده می‌شود.



## 374 Emergency Kits Delivered to Jawzjan Public Health Directorate for Emergency Situations

The kits were handed over to the pharmacy official of the Jawzjan Provincial Public Health Directorate in the presence of an authorized delegation, as provided by the World Health Organization for emergency situations and the prevention of disease outbreaks.

The Director of Public Health of Jawzjan, Sayed Zabihullah Husseini, expressed appreciation for the support and services of the WHO, and emphasized that the Islamic Emirate's health sector priorities will be implemented effectively.











## د عامې روغتيا وزارت له لوري د روغتيايي سيستم پياوړتيا، د خدماتو د کيفيت لوړولو او د مرکز او ولايتونو ترمنځ د همغږۍ ښه کولو په موخه دولايتي مسئولينو سره د همغږۍ او ظرفيت لوړونې څلور ورځنۍ ملي ورکشاپ پيل شو

په ياد ورکشاپ کې چې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د عامې روغتيا وزارت مرکزي او ولايتي رئيسانو، د کتلوي معافيت پروګرام مسئولينو، د روغتيا نړيوال سازمان استازو او د افغانستان لپاره د يونيسف مشر ګډون کړی و، عامې روغتيا ښاغلي وزير، د روغتيايي خدمتونو د نوې پاليسۍ پر اغېزمن تطبيق او د دوامدار پرمختګ لپاره يې د داخلي ظرفيتونو په لوړولو او پر بهرنيو مرستو د تکيې کمولو ټينګار وکړ.

هغه دغه راز د داخلي بوديجې د شفاف او اغېزمن مصرف، د خدماتو د کيفيت ښه والي، د بشري منابعو د ظرفيت لوړونې، د عصري ټکنالوژۍ کارونې، له خصوصي سکتور سره ښه همغږۍ، د تطبيق کوونکو موسسو د فعاليتونو د منظم نظارت او د وقايوي خدماتو، په ځانګړې توګه د پوليو واکسين په غوره تطبيق سپارښتنې ترسره او له ولايتي رئيسانو څخه يې غوښتنه وکړه چې د درملو د نرخونو په کنټرول کې رغنده برخه واخلي.

همدارنګه، د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د ګډو بحثونو پر ارزښت ټينګار وکړ او زياته يې کړه چې د يو منظم او اغېزمن سيستم رامنځته کول اړين دی، څو روغتيايي خدمات پراخ او کيفيت يې لوړ شي.

د پوليو د له منځه وړلو ملي بېړني عملياتي مرکز رئيس الحاج ډاکټر عبدالقدوس بريالي هم له ټولو مرکزي او ولايتي مسئولينو مننه وکړه، چې د پوليو واکسين تطبيق برخه کې يې ورسره همکاري کړې.



## به تعداد 90 کارتن ادویه‌جات و کیت‌های صحی به شفاخانه ولایتی سمنگان تسلیم داده شد

این ادویه‌جات و کیت‌ها از سوی سازمان صحی جهان  در حضور مسوولان ریاست صحت عامه ولایت سمنگان به آمریت شفاخانه ولایتی این ولایت تسلیم داده شد.

مسوولان ریاست صحت عامه سمنگان ضمن قدردانی از همکاری‌های دوامدار این سازمان، بر تداوم و گسترش همکاری‌ها تأکید نمودند.



In Kunar Province, 88 kilograms of expired and substandard medicines, along with 1,424 kilograms of food items and non-alcoholic beverages, were collected in the provincial center and districts during the month of Hamal this year.

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate

## In Kunar Province, 88 kilograms of expired and substandard medicines, along with 1,424 kilograms of food items and non-alcoholic beverages, were collected in the provincial center and districts during the month of Hamal this year.

Officials of monitoring and inspection from the Provincial Public Health Directorate carried out inspections last month in the provincial center and districts, covering the private healthcare sector, numerous food outlets, hotels, and bakeries. As a result, one laboratory was closed for violating health regulations, and 88 kilograms of expired and substandard medicines, along with 1,424 kilograms of food items and non-alcoholic beverages, were collected

## د عامې روغتیا وزارت له لوري د افغان حاجیانو درملنې په موخه 42 قلمه بېلا بېل اړین درمل د حج او اوقافو وزارت ته وسپارل شول



دغه درمل د حاجیانو د روغتیا ساتنې، د عامه ناروغیو درملنې او بېړنیو روغتیايي حالاتو ته پر وخت رسېدنې په موخه یاد وزارت ته وسپارل شو، چې د حج فریضې اداء کولو پر مهال به د ټاکل شویو روغتیايي ټیمونو له لوري د اړتیا پر مهال افغان حاجیانو ته ورکول کېږي.

د عامې روغتیا وزارت د اړوندو ادارو سره په همغږۍ ژمن دی، چې د افغان حاجیانو لپاره معیاري روغتیايي خدمتونه برابر او د هغوی د روغتیا خوندیتوب لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

د یادونې وړ ده، چې عامې روغتیا وزارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په همغږۍ د واکسین او نورو ناروغیو اړوند د عامه پوهاوي خدمات تر سره کوي.

## کارمندان آمریت تنظیم و کاهش آلوده گی هوا مربوط ریاست صحت محیطی وزارت صحت‌عامه، به‌منظور جلوگیری از امراض تنفسی و بهبود کیفیت هوا، از ملکیت‌های مختلف در شهر کابل نظارت نمودند



در جریان این نظارت، چک‌لیست‌های مربوطه تکمیل گردیده و از مسوولان این ملکیت‌ها تعهد گرفته شد که از این پس بدون استفاده از دستگاه‌های تصفیه دود فعالیت نکنند.

همچنان، پیام‌های صحی، بروشورها و لایحه کاهش آلوده گی هوا برای مسوولان ملکیت ها تشریح و توزیع گردید تا فعالیت‌های خویش را مطابق با معیارهای ریاست صحت محیطی تنظیم نمایند.

## Ministry of Public Health Signs $317,158 Contract with AIL Organization to Strengthen and Expand Health Services in Herat Province




The contract was signed for a period of one year with the aim of improving the quality of healthcare services, increasing access, and reducing public health challenges. Through its implementation, 64,000 residents of Herat Province will benefit from maternal and child health services, and 40 individuals will also be provided with employment opportunities in the health sector.

Representatives of the AIL organization also expressed their commitment that the project will be implemented within one year in line with all established standards, and they will pay special attention to meeting the healthcare needs of the people.



## د افغانستان ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د جنوب غرب زون د عامې روغتیا له ولایتي مسؤلینو سره د همغږۍ ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې ښاغلي وزیر د غوره او معیاري روغتیایي خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ او مسئولینو ته یې سپارښتنه وکړه، چې د عامې روغتیا وزارت نوې پالیسۍ په اغېزمن ډول تطبیق، له داخلي بودیجې څخه سمه او شفافه استفاده او پر دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو خپل نظارتونه لا پیاوړي کړي.

همداراز، د جنوب غرب زون ولایتي مسئولینو د یادو سپارښتنو د عملي کېدو ژمنه وکړه او خپلې ستونزې او وړاندیزونه یې له ښاغلي وزیر سره شریک کړل، چې د روغتیایي پرسونل زیاتوالی، طبي او غیرطبي وسایل پکې شامل وو.

په پای کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د مطرح شویو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او له مسئولینو یې وغوښتل، چې له شته امکاناتو څخه په سمه ګټه اخیستنې سره خلکو ته معیاري.




## از سکتور صحی خصوصی و فروشگاه‌های مواد خوراکی در ولایات هرات و سرپل نظارت صورت گرفت

این نظارت از سوی مسئولان نظارت و بررسی ریاست‌های صحت‌عامه این ولایات انجام شد که در نتیجه آن، 3 باب دواخانه و 4 باب معاینه‌خانه در ولایت هرات به‌دلیل نقض قوانین صحی مسدود گردید.

همچنان، در ولایت سرپل 22 قلم مواد خوراکی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت جمع‌آوری و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی این ولایت انتقال داده شد.



## The third phase of monitoring of the Speciality program was conducted at Rabia Balkhi, Shah Amanullah Ghazi, Sardar Mohammad Dawood Khan, and FMIC specialized hospitals.

The monitoring was conducted by operational monitoring teams of the Directorate of Postgraduate Medical Studies to identify gaps in the program and address the challenges faced by specialist trainers and trainee doctors at Rabia Balkhi, Shah Amanullah Ghazi, Sardar Mohammad Dawood Khan, and FMIC specialized hospitals.

At the outset, the teams held discussions with officials of the mentioned hospitals on achieving the objectives of the Directorate of Postgraduate Medical Studies and on standardizing the speciality program.

The teams discussed the importance of curriculum implementation—including scientific conferences, logbooks, bedside teaching, morning reports, morning visits, and case presentations—as these components play a key role in enhancing doctors' academic level and professional competencies.

This process is applicable in all specialized hospitals, provincial facilities, and affiliated military and private centers.




## د عامې روغتيا وزارت د روږدو درملنې 450 بستريز روغتون له لوري، د المپیک، بدني روزنې او ورزش لوی ریاست سره په همغږۍ، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې، د تداوي شويو ناروغانو د بیا روږدیتوب مخنیوي او د هغوی د فزيکي حالت ښه والي په موخه غونډه ترسره شوه

په دې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د المپیک، بدني روزنې او ورزش لوی ریاست مسؤلینو، د روږدو درملنې ملي برنامې ،ریاست مسؤلینو، د 450 بستريز روغتون امر ډاکټر عبدالقادر دانشمل، روغتيايي کارکوونکو ورزشکارانو او د رسنيو استازو ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس د روږديتوب د مخنیوي، د عامه پوهاوي د پياوړتيا او د تداوي شويو ناروغانو د سالم ژوند پر لور د هڅونې په برخه کې د ورته غونډو په اهميت ټينګار وکړ او ويې وویل، منظم ورزشي فعالیتونه د درملنې بهیر پیاوړی کوي او د فزيکي روغتيا تر څنګ د رواني ثبات په رامنځته کولو کې اغېزناک تمامېږي.

همداراز، د روږدو درملنې 450 بستريز روغتون امر ډاکټر عبدالقادر دانشمل د درملنې تر څنګ د دوامدار ملاتړ پر اړتیا ټينګار وکړ او ويې ویل، روزنيز او ورزشي فعاليتونه کولای شي د تداوي شويو کسانو د بيا روږدي کېدو مخه ونيسي او هغوی بېرته عادي ژوند ته وروګرځوي.

---



## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه ا.ا. افغانستان، ، با مسئولان ولایتی صحت‌عامه زون‌های شرق، شمال و شمال‌شرق نشست هماهنگی برگزار کرد

در این نشست، محترم وزیر صحت‌عامه، بر ارائه خدمات صحی معیاری و باکیفیت تأکید نموده و به مسئولان توصیه کرد تا پالیسی جدید وزارت صحت‌عامه را به‌گونه مؤثر تطبیق نموده، از بودجه داخلی به‌صورت درست و شفاف استفاده کنند و نظارت خویش را بر مراکز صحی دولتی و خصوصی بیش از پیش تقویت نمایند.

همچنان، مسئولان ولایتی این زون‌ها تعهد سپردند که، توصیه‌های مطرح‌شده را عملی ساخته و مشکلات و پیشنهادات خویش را نیز با محترم وزیرصحت‌عامه شریک نمودند که شامل تشکیل کارمندان صحی، معاشات، افزایش مراکز صحی، تجهیزات طبی و غیرطبی و بازسازی شفاخانه‌ها بود.

در پایان این نشست، محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه، اطمینان داد که به مشکلات مطرح‌شده رسیده‌گی خواهد شد و از مسئولان خواست تا با استفاده مؤثر از امکانات موجود، خدمات صحی معیاری را به مردم ارائه نمایند.

---



## A Severe Acute Malnutrition treatment center has been established in Wazakhwa district of Paktika province and has been officially inaugurated and made operational.

This center was established in a remote district of Paktika province through the continuous efforts of the Ministry of Public Health's Public Nutrition Directorate, with financial support from UNICEF. It will provide essential healthcare services to patients suffering from complicated severe acute malnutrition.



## د افغانستان ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د روسيې هېواد له سفير، ښاغلي ديميتري ژيرنوف(Dmitry Zhirnov)او مل پلاوي سره ليدنه ترسره کړه

د دې ليدنې پر مهال روغتيا برخه کې د دوه اړخيزو همکاريو پياوړتيا او پراختيا، د سرطان او زړه ناروغيو برخه کې د افغان متخصصينو روزلو او ظرفيت لوړلو، د تجربو شريکولو په موخه روسيې هېواد ته د افغان پلاوي د سفر زمينې برابرولو، د لنډ مهال لپاره روسيې څخه افغانستان ته په مناسب قيمت د باکيفته درملو وارېدولو او د درملو توليد برخه کې د روسيې هېواد د پانګوالو پانګه اچونې په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتيا ښاغلي وزير د روسيې پلاوي ته د ښه راغلاست ويلو ترڅنګ پر دوه اړخيزو روغتيايي همکاريو ټينګار وکړ او ويې ويل: افغانستان او روسيه ښې اړيکې لري او دا اړيکې د روغتيا په سيستم مستقيم مثبت اغېز کوي او موږ غواړو چې روغتيا برخه کې ستاسې له تجربو څخه ګټه واخلو.

بل لور د روسيې سفير وويل: روسيه له افغانستان سره روغتيا برخه کې همکارۍ ته چمتو ده او زياته يې کړه، چې د لابراتوارونو کيفيت لوړولو او افغان ډاکټرانو ظرفيت لوړونې موضوعات به له مرکز سره شريک او هم به روسيې ته د افغان پلاوي د سفر اړوند هڅې وکړي. همدارنګه، نوموړي وويل، هغه خواړه او درمل چې تاسې ورته اړتيا لرئ، لست يې له موږ سره شريک کړئ.



## Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, held a meeting in his office with the WHO Representative for Afghanistan, Dr. Edwin Ceniza Salvador, and his accompanying delegation.

During the meeting, discussions were held on capacity-building programs, particularly in the areas of mental health, cancer, polio, refugees, and laboratory services.

H.E. Jalali said, 'We are working with full commitment to strengthen the country's health system and are striving, in cooperation with international organizations, to provide quality healthcare services to all citizens.'

Similarly, the WHO Representative said, "We are ready to continue our support to the Ministry of Public Health in capacity building, improving services, and other health sectors."




## از سکتور خصوصی صحی، عمده‌فروشی‌های ادویه و فروشگاه‌های مواد خوراکی در ولایت پکتیکا نظارت صورت گرفت

این نظارت از سوی مسئولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه در مرکز و ولسوالی‌های این ولایت انجام شد که در نتیجه، 12 باب کلینیک دندان، 5 باب لابراتوار و یک باب عمده فروشی ادویه به دلیل نقض قوانین صحی مسدود گردید.

همچنان، در جریان این نظارت، 8 کارتن مواد خوراکی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت جمع‌آوری شده و به‌منظور امحا به گدام مرکزی این ولایت انتقال داده شد.



## د عامې روغتیا وزارت له لوري د روغتیايي سیستم پیاوړتیا، د خدمتونو کیفیت لوړولو او د مرکز او ولایتونو ترمنځ د همغږۍ ښه والي په موخه جوړ شوی څلور ورځنی ملي ورکشاپ پای ته ورسېد

د یاد ورکشاپ په جریان کې چې د مرکز او 34 ولایتونو روغتیايي مسئولین یې ګډونوال وو، د عامې روغتیا وزارت له لوري بېلابېلو برخو کې مسلکي پریزینټېشنونه وړاندې، د ګډونوالو ترمنځ نظرونه تبادله، عملي تجربې شریکې او د عامې روغتیا نوې ملي پالیسۍ د اغېزمن تطبیق په اړه لازمي لارښووني وړاندې شوې.

د ورکشاپ وروستي مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د پلان او روغتیايي پراختیا مرستیال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي په خپلو خبرو کې هیله څرګنده کړه، چې مسئولینو به له دې پروګرام څخه ګټور معلومات ترلاسه کړي وي او ټینګار یې وکړ چې زده شوې میتودونه او نوې تګلارې په عملي ډګر کې د روغتیايي خدمتونو د پراختیا، اغېزمنتیا او کیفیت لوړولو لپاره وکارول شي.



## د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي د التراساونډ برخې له استادانو سره ناسته تر سره کړه

دا ناسته چې د عامې روغتیا وزارت د اکمال تخصص لوی ریاست او تشخیصیه ریاست د التراساونډ بورډ د استادانو په همکارۍ ترسره شوه، په کې د مالي او اداري چارو مرستیال، د اکمال تخصص لوی رئیس ډاکټر نثار احمد نیازي او د دولتي او خصوصي سکتور د التراساونډ برخې استادانو ګډون کړی و.

په دې ناسته کې د التراسونډ برخې پر مسلکي زده کړو، د غیر قانوني التراساونډ مرکزونو مخنیوې، د خدمتونو د کیفیت ښه والي او د خصوصي سکتور او عامې روغتیا وزارت ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ په اړه بحث او خبرې وشوې.

د مالي او اداري چارو مرستیال د التراساونډ برخې د تدریس له امله له استادانو څخه مننه وکړه او ویې ویل:( د التراساونډ برخه ښه پرمختګونه لري او موږ هڅه کوو، چې د عامې روغتیا وزارت د راډیولوژۍ انستیتیوټ کې د التراساونډ برخې په فعالولو سره ډاکټرانو ته نورې مسلکي او پرمختللې اسانتیاوې هم برابرې کړو؛ څو په دې برخه کې ناروغانو ته معیاري خدمات وړاندې شي).

ټاکل شوې ده، چې په نږدې راتلونکي کې د عامې روغتیا وزارت په راډیولوژۍ انسټېټیوټ کې د التراساونډ په برخه کې د یو کلن روزنیز پروګرام لومړی پړاو د لرو پرتو او محرومو ولایتونو د 75 تنو ډاکټرانو لپاره پیل شي، په دې پروګرام کې به د دولتي او خصوصي سکتور مسلکي استادان ګډونوالو ته تدریس کوي.

